د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحریراتو آمریت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۴۹

نېټه: ۱۴۴۴/۹/۲۷ هق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!**

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

**وبعد : د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲۰) مورخ ۱۴۴۳/۱۲/۲۹هق په تعقیب لیکو:**

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا د مجلس مورخ ۱۴۴٤/۷/۲۲هق د پنځمې پریکړې په هکله د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا د جنوب لویدیځ زون د تمیز عالي ریاست او د سترې محکمې قضائي معاونیت پنځه علماء کرامو ته د دیوانونو د موضوعاتو د ترتیب په باره کې د بیا کتنې هدایت شوی وو چې یادو علماء کرامو په دې اړه وضاحت د جنوب لویدیځ زون د تمیز عالي ریاست او د سترې محکمې قضائي معاونیت د صادره نمبر (۱۷۲۱) مورخ ۱۴۴٤/۹/٤هق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته په لاندې ډول وړاندې کړی دی:

((څرنګه چې د دیوان امنیت عامه او دیوان نظامي د ځینو موضوعاتو تر منځ ټکر ښکاریدو او محاکم یې په تشویش کې اچولي وو او یا یې بل دیوان ته اړول بهتر ښکاریده، نو ټول هغه شپږ موضوعات چې سره ټکر ول یا یې نقل مناسب وو له دواړو دیوانو څخه حذف او پر جای یې داسې مواد او تعبیرات کېښودل سول چې ټکر پکښې نسته او هم شامل دي، یاد موضوعات په دیوان نظامي کې درې مادې:

۱ـ څلورمه ماده: د خوارجو (دواعش) ډلې مربوط هر قسمه موضوعات.

۲ـ پنځمه ماده: د احتساب موضوعات (سیاسي).

۳ـ شپږمه ماده: ځان وژنه.

د امنیت عامه په دیوان کې لاندې درې مادې:

۱ـ څلویښتمه ماده: انسان تښتونه یا اختطاف.

۲ـ یو څلویښتمه ماده: د اسلامي حکومت په ضد د ګروپونو جوړول.

۳ـ درې څلویښتمه ماده: د بمونو ایښودل په (لارو او نورو ځایونو کښې)

پورتنې شپږ مواد دې د دواړو دیوانونو له لست څخه حذف سي او په ځای دې په دیوان نظامي کې دوه مادې په دې شکل ځای پر ځای سي:

۱ـ هغه ډلې چې د اسلامي امارت په ضد مسلحانه فعالیت کوي.

په دې ماده کې به ټولې هغه مسلحې ډلې چې د امارت په ضد فعالیت کوي راسي، لکه مقاومتیان دي، دواعش دي یا بله کومه ډله ده.

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامي څلور لاری، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

۲ ـ د اختطاف ټول موضوعات که منجر په قتل سره وي یا منجر په قتل سره نه وي اختطاف کوونکی نظامي شخص وي یا غیر نظامي شخص وي.

څرنګه چې دا موضوع مشکله او اکثر وخت اختطاف کوونکي زورور خلک وي نو قوي محکمې ته ضرورت لري؛ ځکه مو دیوان نظامي ته ور اړول مناسب وبلل.

او د امنیت عامه دیوان په مربوط لست کې یوه ماده داسې راسي:

هغه ډلې چې د اسلامي حکومت په ضد غیر مسلحانه فعالیت کوي.

په دې ماده کې به ټولې هغه سیاسي ډلې چې د امارت پر ضد غیر مسلحانه فعالیت کوي لکه حزب التحریر، جمعیت اصلاح وغیره داخلې سي.

او دوه موضوع ګانې چې محکې د محاکمو د موضوعاتو په لست کې نه وي هغه دې هم د لاندې دیوانونو په لستونو کې اضافه سي:

۱ ـ (نا مشروع اړیکې) موضوع دې د دیوان جزاء په موضوعاتو کې راسي.

۲ ـ د (معادنو دعوې) موضوع دې د دیوان مدني په موضوعاتو کې راسي.

د پورته تحریر شوي وضاحت په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا داسې هدایت شوی دی:

((وکتل سو:

د ستري محکمې محترم مقام ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

وبعد: د علماوو پورته نظر زموږ له خوا تائید دی تاسو پورته موادي د پورته وضاحت سره اړونده دیوانونو ته په متحدالمآل ډول ولیږئ تر څو هر دیوان خپل مسؤلیت پوره کړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د هدایت په اساس د دیوانونو د موضوعاتو د تعین په هکله د ټاکل شویو علماء کرامو د وضاحت مطابق د دیوانونو د موضوعاتو د تعین جدولونه مجدداً ترتیب او د ستري محکمې د محترم مقام د شفاهي هدایت په اساس د دې متحدالمآل مل په (۱۵) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

۲۷/۹/۱۴۴۴ هـ ق

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامي څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

**د جزاء دیوان ریاست**

| شمېره | د جزاء دیوان مربوط قضیې<br>د قضیې نوع | شماره | قضایای مربوط دیوان جزاء<br>نوع قضیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | قتل که عمد وي او که خطاء | ۱ | قتل عمدأیا خطاً |
| ۲ | د زنا فعل | ۲ | فعل زنا |
| ۳ | نامشروع اړیکي | ۳ | ارتباط نامشروع |
| ٤ | لواطت | ٤ | لواطت |
| ٥ | قطع الطریق (لارشکونه) | ٥ | قطع الطریق (رهزنی) |
| ٦ | وسله واله غلا | ٦ | سرقت مسلحانه |
| ۷ | غلا، او د غلا شوي مالونو اخیستل او خرڅول | ۷ | سرقت، خرید و فروش اموال مسروقه |
| ۸ | د یو چا د حریم د بیعزتی او بې حرمتی دعوی | ۸ | دعوی بی عزتی وبی حرمتی به حریم یک شخص |
| ۹ | ژوبلول | ۹ | مجروحیت |
| ۱۰ | جنین له منځه وړل | ۱۰ | سقط جنین |
| ۱۱ | دیوال و غیره ورانول او د یو چا د املاکو او اموالو سوځول | ۱۱ | تخریب دیوار و غیره و تحریق املاک و اموال شخصی |
| ۱۲ | جنګ، وهل او ټکول | ۱۲ | جنگ، لت و کوب |
| ۱۳ | تهدید او ګواښ کول عامه خلکو ته | ۱۳ | تهدید و اخطار مردم عامه |
| ١٤ | جیب وهنه | ١٤ | کیسه بری |
| ۱٥ | قمارکول د خصومت په صورت کې | ۱٥ | قمار بازی کردن به صورت خصومت |
| ۱٦ | په وژنه کې همکاري | ۱٦ | معاونت در قتل |
| ۱۷ | د کورڅخه د مېرمنې تېښته | ۱۷ | فرار زن از منزل |
| ۱۸ | د شریعت خلاف نکاح کول (لکه د یو چا منکوحه په نکاح کول) | ۱۸ | ازدواج غیر شرعی (مثلاً به نکاح گرفتن منکوحه شخص دیگر ) |
| ۱۹ | د وژنې اقدام کول | ۱۹ | اقدام به قتل |
| ۲۰ | چور او چپاول | | چپاولگری |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۱ | په وظیفه کې بې غوري | ۲۱ | غفلت در وظیفه |
| ۲۲ | بې عزتي او ښکنځل کول | ۲۲ | هتک حرمت (دشنام و غیره) |
| ۲۳ | د شخصي ملکیت د ونو پرېکول | ۲۳ | قطع اشجار ملکیت شخصی |
| ۲۴ | ډلییز جنګ | ۲۴ | جنگ مغلوبه |
| ۲۵ | کورونو ته بدون د اجازې ننوتل او د یو چا په حریم تیری کول | ۲۵ | داخل شدن در منزل غیر بدون اجازه و تجاوز کردن به حریم خصوصی شخص |
| ۲۶ | شراب څښل | ۲۶ | شراب نوشی |
| ۲۷ | ځورونه، تکلیف او ویرول | ۲۷ | آزار ،اذیت و تخویف |
| ۲۸ | مرده ګوی | ۲۸ | زن جلب و دیوس( قوارى) |
| ۲۹ | د ښځې خرڅول (که منکوحه وي او که غیر منکوحه) | ۲۹ | فروش زن (منکوحه و غیره منکوحه) |
| ۳۰ | د دروغو شهادت ورکول | ۳۰ | شهادة الزور |
| ۳۱ | د طبي مقرراتو نه رعایت کول | ۳۱ | عدم رعایت مقررات طبی |
| ۳۲ | بې هوشه کول | ۳۲ | مسمومیت |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د امنیت عامه دیوان ریاست

| شمېره | د امنیت عامه دیوان مربوط قضیې | شماره | قضایای مربوط دیوان امنیت عامه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د چرسو قاچاق کول د دعوې په صورت کې | ۱ | قاچاق چرس در صورت بروز دعوی |
| ۲ | د کوکنارو کرل د دعوې په صورت کې | ۲ | کشت کوکنار در صورت بروز دعوی |
| ۳ | د بنګدانې قاچاق کول او کرل د دعوې په صورت کې | ۳ | قاچاق و کشت بنگدانه در صورت بروز دعوی |
| ٤ | د تریاکو استعمال، خرڅول او اخیستل د دعوې په صورت کې | ٤ | استعمال تریاک ، خرید و فروش آن در صورت بروز دعوی |
| ۵ | د هیروئینو قاچاق کول: هیروئین د خشخاشو څخه په لاس راځي چې د مورفینو یو تغیر یافته شکل دي ددغه مخدره مادې مصرف ډیر اعتیاد آور دی او د هغه ډیر استعمال تنفس دروي او د مرګ سبب ګرځي او دغه ماده لکه ګچ، اوړه، تالک او داسي نورو موادو څخه ترکیب کیږي) د دعوې په صورت کې | ۵ | قاچاق هیروئین: (هیروئین از خشخاش بدست می اید که شکل تغیر یافته مورفین است خطرات مصرف این ماده مخدر بسیار اعتیار آور است و استعمال بیش از حد ان تنفس را متوقف مینماید و سبب مرگ می شود چون از مواد ی همچون گچ، آرد ، تالک و غیره ترکیب می گردد در صورت بروز دعوی |
| ٦ | مورفین: مورفین هغه مخدره ماده ده چې د تریاکو څخه اخیستل کیږي او دا په دوه ډوله (مایع او پودر) استعمالیږي او ددغې مادې ډیر استعمال په ځوانانو کښي دی او دغه ماده خوب زیاتوي او د تریاکو اثر لري د دعوې په صورت کې | ٦ | مورفین: ماده مخدری است که از تریاک گرفته میشود و به دو صورت (مایع و پودر) مصرف می گردد مصرف این مواد در بین جوانان زیاد است و ماده خواب آور و اثرات تریاک را دارد. |
| ۷ | استعمالول، اخستل او خرڅول د تابلیت کا (هغه کیپسول دي چې د نشه يي توکو څخه جوړیږي) | ۷ | استعمال و خرید و فروش تابلیت K (کپسول که از پودر نشه آور ساخته میشود) |
| ۸ | شیشه اوکرستال :دغه ماده یوه مخدره تحریک کونکې ترکیبي او مصنوعي ماده ده په روښانه شکل په شان د کریستال په آبي او شین رنګ سره پیدا کیږي) د دعوې په صورت کې | ۸ | شیشه وکرستال نوعی ازمواد مخدر تحریک کننده و بشکل ترکیبی و مصنوعی است که بشکل شفاف و مانند کریستال برنگ آبی و سبز یافت می شود در صورت بروز دعوی |
| ۹ | د الکولي مشروباتو خرڅول او اخیستل د دعوې په صورت کې | ۹ | خرید و فروش مشروبات الکولی در صورت بروز دعوی |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۰ | په تجارتي معاملاتو کښې تقلب (چل ول) کول لکه: د اصلي شي پرځای بدل شی ورکول. | ۱۰ | تقلب در معاملات تجارتی(فریباکاری) |
| ۱۱ | جعل (ساخته کاري) او تزویر (د اصلي سند پر ځاي بل سند وړاندي کول او یا هم اصلی کلماتو ته تغیر ورکول) یا د پاڼو بدلول یا په لیکنه کي تغیر او تبدیل کول | ۱۱ | جعل (ساخته کاری) و تزویر (مثلاً به جای سند اصلی سند دیگر ارائه کردن و یا کلمات اصلی را تغیر دادن)تبدیل اوراق وتغیرکردن کتابت نوشتن |
| ۱۲ | فریبکاري په هر شکل چې وي | ۱۲ | هر نوع فریبکاری |
| ۱۳ | بغیر له دې چې خپل اکاونټ کښې پیسې ولري یو چاته چک ورکول | ۱۳ | چک دادن بدون وجود پیسه در حساب بانکی |
| ۱۴ | د دروغو خبر ورکول | ۱۴ | اطلاع کذب |
| ۱۵ | د امارتي مالونو غلا کول اوخیانت پکښې کول | ۱۵ | سرقت اموال امارتی وخیانت کردن |
| ۱۶ | اختلاس د خپلي شخصي ګټي لپاره د عامه مالونو اخیستل د امارتی (دولتی) مأمور لخوا | ۱۶ | اختلاس (گرفتن اموال عامه از سوی مامور امارتی به نفع شخصی ) |
| ۱۷ | غدر (بې وفائي او د مشروطې وعدې ماتول) | ۱۷ | غدر (بی وفایی و عهد مشروط شکنی) |
| ۱۸ | د دندي څخه ناوړه ګټه اخیستل | ۱۸ | سؤ استفاده از صلاحیت وظیفوی |
| ۱۹ | باج اخیستنه د امارتي شخص له خوا په عامه لاره کښې پیسې او داسې نور څه په زور اخیستل خودسرانه | ۱۹ | اخاذی خودسرانه بزور پول گرفتن و غیره در راه عام از سوی مامور امارتی |
| ۲۰ | د حکم څخه سرغړونه: (هغه اشخاص چې د محکمې د حکم قطعي او یا د نورو مقاماتو د حکم او قانون څخه سر غړونه وکړي) | ۲۰ | تمرد (اشخاصیکه از حکم قطعی محکمه و یا از حکم مقامات و قانون سرکشی نمایند) |
| ۲۱ | د عامه خدمتنو د مؤظفینو پر خلاف تجاوز: (هغه شخص چې د عامه خدمتونو د مؤظف لکه د پولیس، مامور وغیره کارمندانو پر خلاف د قوت یا تهدید په استعمال سره تجاوز وکړي یا یې ووهي) | ۲۱ | تجاوز علیه موظفین خدمات عامه (شخصیکه بر خلاف کارمندان موظفین خدمات عامه مانندپولیس ، مامور و غیره به استعمال قوت و تهدید تجاوز کند و یا آنها را لت و کوب نماید) |
| ۲۲ | جعلي پیسې چلول | ۲۲ | استعمال پول جعلی |
| ۲۳ | د پیسو مینځل: (غیر قانوني پیسې نقلول د پیسو سپینول هغه توري پیسې لکه ډالر و غیره غیر قانونی سپینول) | ۲۳ | پول شوئی (انتقال دادن پول غیر قانونی و یا هم سفید کردن پول سیاه مانند دالر و غیره ) |
| ۲۴ | د سلاح قاچاق او د هغه غیر قانونی استعمال | ۲۴ | قاچاق سلاح و استفاده از سلاح غیر قانونی |
| ۲۵ | د محبس څخه تښتېدل | ۲۵ | فرار از محبس |

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۶ | د جرم پټول ( د داسي جرم پټول چي د عامه امنیت له پاره ګواښ وي) | ۲۶ | کتمان جرم (پنهان کردن جرم که به امنیت عامه خطر باشد) |
| ۲۷ | د قضا تضلیل (د قاضي خطاء ایستل عمداً په درواغو ویلو و غیره سره) | ۲۷ | تضلیل قضاء (خطا نمودن قاضی عمداً به اظهار کذب و غیره) |
| ۲۸ | د مجرم سره مرسته کول | ۲۸ | هکاری با مجرم |
| ۲۹ | د ګمرک څخه پرته د موټرو قاچاق ( د موټرو انتقال د سرحدونو او بندرونو څخه په غیر قانوني توګه) | ۲۹ | قاچاق موتر (انتقال موتر از سرحدات و بنادر بصورت غیر قانونی) |
| ۳۰ | د ګمرک څخه پرته د لرګیو قاچاق (د لرګیو انتقالول په غیر قانوني توګه سره) | ۳۰ | قاچاق چوب (به انتقال چوب بصورت غیر قانونی) |
| ۳۱ | د قیمتي تیږو، ډبرو قاچاق | ۳۱ | قاچاق سنگ (انتقال سنگ قیمتی بصورت غیر قانونی) |
| ۳۲ | د سرو زرو (طلا) قاچاق (غیر قانوني انتقال) | ۳۲ | قاچاق طلا (انتقال طلا بصورت غیر قانونی) |
| ۳۳ | بې اجازې د امارتي ونو پرېکول | ۳۳ | قطع اشجار امارتی بدون اجازه |
| ۳٤ | د قاچاقبرانو سره مرسته کول | ۳٤ | همکاری با قاچاقبران |
| ۳۵ | د سیم باکسو قاچاق: (د کشفي او مخابراتي آلاتو انتقالول چي له مخابراتو سره مربوط وي پرته له اجازې) | ۳۵ | قاچاق سیم باکس (انتقال آله کشفی و مخابراتی مربوط به مخابرات بدون اجازه) |
| ۳۶ | د مهماتو قاچاق (په غیر قانوني توګه سره) لکه مرمی وغیره | ۳۶ | قاچاق مهمات (انتقال مهمات بصورت غیر قانونی) مثل مرمی وغیره |
| ۳۷ | د روا مالونو قاچاق | ۳۷ | قاچاق اموال مجاز (انتقال اموال مجاز به خارج از کشور) |
| ۳۸ | د کیمیاوي موادو استعمالول | ۳۸ | استعمال مواد کیمیاوی (جوهری مضر) |
| ۳۹ | د انسان قاچاق (له خارج ملک څخه داخل ته او یا له داخل څخه خارج ملک ته د انسان انتقالول په غیر قانوني توګه) | ۳۹ | قاچاق انسان (انتقال انسان از خارج کشور به داخل کشور و یا از داخل به خارج کشور خلاف قانون) |
| ٤۰ | هغه ډلې چي د اسلامي امارت په خلاف غیر مسلحانه فعالیت کوي. په دي ماده کې به ټولې هغه سیاسي ډلې چي د امارت پر ضد غیر مسلحانه فعالیت کوي لکه حزب التحریر، جمعیت اصلاح وغیره داخلي سي. | ٤۰ | گروه های که خلاف امارت اسلامی فعالیت های غیر مسلحانه را انجام می دهد در این ماده همه گروهای سیاسی که به ضد امارت فعالیت غیر مسلحانه مینمایند مثل حزب التحریر و جمعیت اصلاح وغیره شامل گردد. |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٤١ | ملي خيانت: (د اسلامي حکومت ((امارت پر ضد تبليغات اوتوطئه ))او خارج ته معلومات ورکول او استقلال ته خند جوړول) | ٤١ | خيانت ملی (تبليغات عليه حکومت اسلامی، ((بضدامارت اسلامی تبليغ وتوطئه کردن)) انتقال معلومات و تهديد استقلال) |
| ٤٢ | د لرغونو آثارو ، د تاريخي او فرهنگي آثارو قاچاق کول | ٤٢ | قاچاق آثار باستانی (انتقال اثار تاريخی و فرهنگی بصورت غير قانون) |
| ٤٣ | د ممنوعه مالونو پيرودل او پلورل او انتقالول (چي د دولت لخوا منعه شوي وي) | ٤٣ | خريد و فروش و انتقال اموال ممنوعه ( که از طرف دولت منع شده باشد) |
| ٤٤ | خيانت کول په هغه مالونو کښي چي د خلکو د مرستي لپاره ورکړل شوي وي | ٤٤ | خيانت در اموال کمک شده برای مردم |
| ٤٥ | د مظنون، متهم او مجرم تښتېدل | ٤٥ | فرار کردن مظنون ، متهم و مجرم |
| ٤٦ | د مظنون، متهم او مجرم تښتول | ٤٦ | فرار دادن مظنون ، متهم و مجرم |
| ٤٧ | د گمرکي قوانينو څخه تښتېدل | ٤٧ | فرار از قوانين گمرکی |
| ٤٨ | د غير مؤظف شخص امارتي يونيفورم استعمالول | ٤٨ | استعمال شخصی غير مسؤل از يونيفورم امارتی |
| ٤٩ | د عامه خدمتونو د مؤظف ناوړه چلند کول د خلکو سره | ٤٩ | رويه سؤ موظفين خدمات عامه با ديگران |
| ٥٠ | د امارت اسرار افشا کول | ٥٠ | افشای اسرار امارتی |
| ٥١ | د غير اخلاقي فلمونو نشرول او خپرول | ٥١ | پخش و نشر فلم های غير اخلاقی |
| ٥٢ | جاسوسي (د نظامي اسرارو ورکول خارج ته او يا هم مخالفينو د اسلامي امارت ته) | ٥٢ | جاسوسی (بيرون کشيدن اسرار نظامی به خارج و يا به گروه ضد امارتی) |
| ٥٣ | د هوائي ميدانونو د حريم نقض | ٥٣ | نقض حريم ميدان های هوائی |
| ٥٤ | بيرغ يا امارتي نشان ته سپکاوی | ٥٤ | توهين به بيرق يا نشان امارتی |
| ٥٥ | کورني جګړې (مذهبي، قومي و غيره ته) هڅول | ٥٥ | تحريک به جنگ داخلی (مذهبی ، قومی و غيره) |
| ٥٦ | هدفي وژني او بي ثباتي ايجادول د داخلي او خارجي سازمانونو په همکاري سره | ٥٦ | قتل های هدفی و ايجاد بی ثباتی به همکاری سازمانهای داخلی و خارجی و تمويل آنها |
| ٥٧ | ايجادول او انتقال د مواد منفجره او د وژونکو وسايلو له دوي څخه پيدا کيدونکي جرمونه | ٥٧ | ايجاد ، وانتقال مواد منفجره و وسائل کشنده و جرايم ناشی از آنها |
| ٥٨ | هغه جرمونه چي د هوائي پروازونو او د هغې عملې پر وړاندي واقع شي د خصومت په صورت کي | ٥٨ | جرايم ناشی عليه مصئونيت پرواز های هوائی و عمله آن |
| ٥٩ | د وسله والي ډلي رهبري کول د املاکو امارتي ياغير امارتي د غصب کولو او يا لوټولو لپاره د خصومت په صورت کي | ٥٩ | رهبری گروه مسلح بمنظور غصب يا غارت املاک امارتی ياغير امارتی در صورت خصومت |

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٠ | د ډیپلو ماتیکو اړیکو په وړاندي جرمونه: (هغه شخص یا جماعت چي د امارت اسلامي افغانستان او د یو خارجي دولت او یا د بین المللي سازمانونو ډیپلوماتیکو اړیکو ترمنځ د اختلاف او یا د روابطو قطع کول مرتکب کړځي) د خصومت په صورت کي | ٦٠ | جرایم علیه روابط دیپلوماتک (شخص یا گروه که بمنظور ایجاد تشنج یا قطع روابط دیپلوماتیک میان امارت اسلامی افغانستان و دولت خارجی یا سازمان های بین المللی مرتکب عمل گردد) به صورت خصومت |
| ٦١ | بډې اخیستل د خصومت په صورت کي | ٦١ | رشوت به صورت خصومت |
| ٦٢ | په امانت کښې خیانت کول د خصومت په صورت کي | ٦٢ | خیانت در امانت به صورت خصومت |
| ٦٣ | د رسالت او ختم نبوت څخه انکار او توهین کول د خصومت په صورت کي | ٦٣ | توهین رسالت و انکار ختم نبوت به صورت خصومت |
| ٦٤ | د اسلام او شعائر الله تعالي توهین کول د خصومت په صورت کي | ٦٤ | توهین اسلام و شعائر الله تعالی به صورت خصومت |
| ٦٥ | د کفریه علاماتو تعظیم او د هغه علاماتو استعمالول چي په اسلام کښې کفر شمارل کیږي مثلاً د صلیب زنار و غیره د خصومت په صورت کي | ٦٥ | تعظیم علامات کفریه و استعمال ان که در اسلام کفر محسوب میگردد مثلاً صلیب و زنار و غیره به صورت خصومت |
| ٦٦ | ارتداد د خصومت په صورت کي | ٦٦ | ارتداد به صورت خصومت |
| ٦٧ | توهین و سب صحابه رضی الله عنهم و سلف صالحین رحمهم الله د خصومت په صورت کي | ٦٧ | توهین و سب صحابه رضی الله عنهم و سلف صالحین رحمهم الله به صورت خصومت |
| ٦٨ | عامه حقوق (ټولي هغه حقوقي دعوی گاني چي په مینځ د حقوقي شخص یا حکمي (مؤسسه، شرکت) شخص د حکومتي سره وي) د خصومت په صورت کي | ٦٨ | حقوق عامه: (تمام دعوی های حقوقی که بین شخص حقوقی یا حکمی خاص، موسسه ، شرکت با حکومت باشد) به صورت خصومت |
| ٦٩ | مرعی (مالچر) | ٦٩ | دعوی مرعی (چراگاه) |
| ٧٠ | د بی کیفیتو مالونو واردول او د هغه خرڅول (لکه درمل و غیره) | ٧٠ | وارد کردن مال های بی کیفیت و فروختن ان (مانند ادویه جات و غیره ) |
| ٧١ | د مجرم پټولو موضوع | ٧١ | موضوع اخفاء مجرم |

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

دافغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د مدني دیوان ریاست

| شمېره | د مدني دیوان مربوط قضیې | شماره | قضایای مربوط دیوان مدنی |
|---|---|---|---|
| | د قضیې نوع | | نوع قضیه |
| ۱ | د تنازع بالایدي دعوی | ۱ | دعوی تنازع بالایدی |
| ۲ | د دفع تعرض دعوی | ۲ | دعوی دفع تعرض |
| ۳ | د منقول ملکیت دعوی | ۳ | دعوی ملکیت منقول |
| ٤ | د غیر منقول ملکیت دعوی | ٤ | دعوی ملکیت غیر منقول |
| ۵ | د مستهلک د ضمان دعوی | ۵ | دعوی ضمان مستهلک |
| ٦ | د میراث دعوی | ٦ | دعوی ارث |
| ۷ | د غصب دعوی | ۷ | دعوی غصب |
| ۸ | د شفعې دعوی | ۸ | دعوی شفعه |
| ۹ | د عاریت دعوی | ۹ | دعوی عاریت |
| ۱۰ | د ودیعت دعوی | ۱۰ | دعوی ودیعت |
| ۱۱ | د دین د کفالت دعوی | ۱۱ | دعوی کفاله دین |
| ۱۲ | د مرور زمان دعوی (د دفع په شکل نه د اصل) | ۱۲ | دعوی مرور زمان (بصورت دفع باشد نه بشکل اصل) |
| ۱۳ | د نسب دعوی | ۱۳ | دعوی نسب |
| ۱٤ | د نکاح دعوی | ۱٤ | دعوی نکاح |
| ۱۵ | د طلاق دعوی | ۱۵ | دعوی طلاق |
| ۱٦ | د طلاق نه د رجوع دعوی | ۱٦ | دعوی رجوع از طلاق |
| ۱۷ | د خلع دعوی | ۱۷ | دعوی خلع |
| ۱۸ | د حضانت دعوی | ۱۸ | دعوی حضانت |
| ۱۹ | د رضاعت دعوی | ۱۹ | دعوی رضاعت |
| ۲۰ | د مهر دعوی | ۲۰ | دعوی مهر |
| ۲۱ | د نفقې دعوی | ۲۱ | دعوی نفقه |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۲ | د بین الزوجین د تفریق دعوی | ۲۲ | دعوی تفریق بین الزوجین |
| ۲۳ | د مسیل دعوی | ۲۳ | دعوی مسیل |
| ۲٤ | د مجری دعوی | ۲٤ | دعوی مجری |
| ۲۵ | د لاري دعوی | ۲۵ | دعوی راه |
| ۲٦ | د حقابه دعوی | ۲٦ | دعوی حقابه |
| ۲۷ | د حضانت او رضاعت د أجرت دعوی | ۲۷ | دعوی اجرت حضانت و رضاعت |
| ۲۸ | د گاونډي د ضرر د دفع دعوی | ۲۸ | دعوی دفع ضرر همسایه |
| ۲۹ | د تقسیم او مهایات دعوی | ۲۹ | دعوی تقسیم ومهایات |
| ۳۰ | د بیع بالوفاء او رهن دعوی | ۳۰ | دعوی بیع الوفاء ورهن |
| ۳۱ | د استحقاق دعوی | ۳۱ | دعوی استحقاق |
| ۳۲ | د مزارعت دعوی | ۳۲ | دعوی مزارعت |
| ۳۳ | د مساقات دعوی | ۳۳ | دعوی مساقات |
| ۳٤ | د معادنو دعوې | ۳٤ | دعاوی معادن |

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د ترافیکو د دیوان ریاست

| شمیره | د ترافیکو دیوان مربوط قضیې | شماره | قضایای مربوط دیوان ترافیک |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | ترافیکي حادثه (هغه واقعه ده چي د اهمال، غفلت، بي احتیاطي، د قوانینو مقرراتو یا د ترافیکي لائحو د نه رعایت له امله پېښه او په فوت کېدو یا جسمي یا مالي زیان تمامیږي) | ۱ | حادثه ترافیکی (آن واقعه است که به علت اهمال، غفلت، بی احتیاطی، عدم رعایت قوانین و مقررات و لوایح ترافیکی که سبب حادثه شده منجر به فوت و یا هم به ضرر جسمی و مالی گردد |
| ۲ | ترافیکي حادثه چي سبب د قتل شي | ۲ | حادثه ترافیکی که منجر به قتل شود |
| ۳ | ترافیکي حادثه چي د دائم له پاره د معلولیت سبب وګرځي | ۳ | حادثه ترافیکی که منجر به معلولیت دائمی گردد |
| ٤ | ترافیکي حادثه چي سبب د سخت زخمي کیدلو وګرځي | ٤ | حادثه ترافیکی که منجر به جرح شدید گردد |
| ٥ | ترافیکي حادثه چي د بدن د عضو د ماتېدلو سبب وګرځي | ٥ | حادثه ترافیکی که منجر به شکستن عضو گردد |
| ٦ | ترافیکي حادثه چي سبب د لږ وهلو او لږ زخمي کېدلو وګرځي | ٦ | حادثه ترافیکی که منجر به ضرب و جرح خفیف گردد |
| ۷ | ترافیکي حادثه چي سبب د مالي ضرر وګرځي | ۷ | حادثه ترافیکی که منجر به ضرر مالی گردد |
| ۸ | د نقلیه وسائطو استعمال بغیر له جواز سیر، د نمبر پلیت او مؤقت سند لرونکي | ۸ | استعمال وسائط نقلیه بدون جواز سیر، نمبر پلیت قانونی ، و سند موقت |
| ۹ | د بل چا جواز سیر او د نمبر پلیټ څخه استفاده کول | ۹ | استفاده از جواز سیر و نمبر پلیت غیر |
| ۱۰ | خپل جواز سیر او نمبر پلیټ بل چا ته د استفادې لپاره ورکول | ۱۰ | دادن جواز سیر و نمبر پلیت خود را به غرض استفاده به شخص دیگر |
| ۱۱ | د ماشین او شاسي نمبر له منځه وړل او یا یې نمبر تغیرول | ۱۱ | محو و تغیر نمبر ماشین و شاسی |
| ۱۲ | د موټروان حرکت کول د بل چا په لاس (پر غیر قانوني طرف) باندي | ۱۲ | رفتار راننده خلاف مسیر و سمت غیر قانونی در جاده (سرک) |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | د نشې په حالت کښې موټروانې کول، که مرتکب د حادثې شي یا نشي | ۱۳ | رانندگی در حالت سکر یا نشه خواه مرتکب حادثه ترافیکی شودیا نه |
| ۱٤ | موټروانې کول په داسې حالت کښې چې داسې امراض ولري چې غالباً سبب د ترافیکی حادثې گرځي | ۱٤ | رانندگی در حالت داشتن امراضیکه غالباً منجر به حادثه ترافیکی گردد |
| ۱۵ | د ترافیکي حادثې د ځاي څخه تېښته کول | ۱۵ | فرار از محل حادثه ترافیکی |
| ۱٦ | د لیسنس (د موټروانې جواز) نه لرل | ۱٦ | نداشتن لایسنس( جواز رانندگی) |
| ۱۷ | د فني او مسلکي اصولو څخه لويه تخطي کول چې د ترافیکي حادثې سبب گرځي | ۱۷ | ارتکاب حادثه ترافیکی از اثر تخطی بزرگ اصول فنی و مسلکی |
| ۱۸ | د عامه ترافیکي مقرراتو نه رعایت کول | ۱۸ | عدم رعایت از مقررات ترافیکی عامه |
| ۱۹ | د ترافیکي علامو د شکلونو تغیرول | ۱۹ | تغیر شکل نشانه های ترافیکی |
| ۲۰ | د ترافیکي علاماتو او نښانو پټول یا له منځه وړل، که د ترافیکي حادثې سبب شي یا نشي. | ۲۰ | از بین بردن نشانه ها و علامات ترافیکی و یا مخفی کردن آن خواه سبب حادثه ترافیکی شود یا نه |
| ۲۱ | نه ایښودل د اخطاریه او تنویریه علامې په هغه عمومي لار کښې چې په هغه کښې کنده وي او یا بل شی ایښودل شوی وي. | ۲۱ | نگذاشتن علامه اخطاریه و تنویریه در راه عام که در آن کنده و حفر کاری شده و یا چیز دیگر گذاشته شده باشد |
| ۲۲ | د اخطاریه او تنویریه علاماتو لیري کول | ۲۲ | دور کردن علامه اخطاریه و تنویریه |
| ۲۳ | په عمومي لارو او میدانونو کښې د چراغونو لیري کول، له منځه وړل او یا هم تلف کول چې د رڼا لپاره تنظیم شوي وي. | ۲۳ | خاموش کردن، از بین بردن، دور کردن و یا تلف کردن چراغ های که در راه عام و یا میدان به غرض روشن نمودن تنظیم شده باشد |
| ۲٤ | د ترافیکو قوانینو خلاف د نقلیه وسائطو باروِل | ۲٤ | بار کردن وسائط نقلیه خلاف قوانین ترافیکی |
| ۲۵ | د نقلیه وسائطو استعمالول خلاف د ترافیکي قوانینو لکه تیز رفتاري، تیز چراغونه لگول او د ټایر زوړ والی، او داسي نور... | ۲۵ | استعمال وسائط نقلیه خلاف قوانین ترافیکی (تیز رفتار، روشنی زیاد چراغها ، و فرسوده بودن تائر و غیره) |

یادونه : نهایي فیصله یې د زون د مرافعې محکمې ده .

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء
۲

## د تجارتي دیوان ریاست

| شمېره | د تجارتي دیوان مربوط قضیې | شماره | قضایای مربوط دیوان تجارتی |
|---|---|---|---|
| | د قضیو ډولونه | | نوع قضیه |
| ۱ | د هر ډول منقولو مالونو د تهیه کولو تعهد او د هر ډول اعمالاتو او انشاآتو په ذمه اخیستل (مثلاً: یو وزارت د غذائي موادو د برابرولو په برخه کښې د یو شرکت سره پیمان یا تعهد کوي او داسې نور) | ۱ | دعوی تعهد و تهیه هر نوع اموال منقول و به ذمه گرفتن و قبول کردن هر قسم اعمالات و انشاءات (مثلاً:تعهد یک شرکت همراهی یک وزارت در تهیه مواد غذائی و غیره) |
| ۲ | د فابریکې د تاسیس، د مطبعې د دستگاه دائرول، د عکاسي مطبعه، د نشریاتو او د کتابونو پلورلو و غیره دعوی) | ۲ | دعوی مربوط به تأسیس فابریکه، تدویر دستگاه، مطبعه عکاسی، نشریات و فروش کتب و غیره |
| ۳ | د ننداریتونونو افتتاح او د عمومیه مقاماتو پرانیستل لکه (هوټل، سرایونه، د خوړوخوني او د کار کونکو د تهیه کولو لپاره دفترونه او د لیلام ځایونو و غیره دعوی) | ۳ | دعوی مربوط به افتتاح تماشاگاه ها، و گشودن محلات عمومی (مانند هوتل، سرای ها، طعام خانه ها، تهیه دفاتر کارگران و لیلام خانه ها و غیره) |
| ۴ | په وچه، سیندونو او هوا کښې د مسافرینو ، حیواناتو او نورو شیانو وړلو دعوی | ۴ | دعوی مربوط به انتقال مسافرین و حیوانات و د یگراشیاء در خشکه، بحر و هوا |
| ۵ | د اوبو، گیس، او بریښنا ویشل او تلیفوني مخابراتو تاسیس و غیره دعوی | ۵ | دعوی شرکت ها مربوط به توزیع آب، گاز، برق، تأسیس مخابرات تلیفونی و غیره |
| ۶ | د کمیشن د اخستلو او دلالي (رهنمای معاملات او نورو) اړوند دعوی | ۶ | دعوی مربوط به کمیشن کاری و دلالی (رهنمای معاملات و غیره) |
| ۷ | د برائت، حجت چک او د تجارتي معاملاتو اړوند دعوی | ۷ | دعوی برائت، حجت و چک مربوط معاملات تجارتی |
| ۸ | د صرافي د معاملاتو اړوند دعوی | ۸ | دعوی مربوط به معاملات صرافی |
| ۹ | د جاري حساب معاملې او په هغو پورې د مربوطو مقاولو (تعهدات) دعوی (لکه یو شرکت تعهد کوي | ۹ | دعوی مربوط به معاملات حساب جاری و مقاولات (تعهدات) مربوط به آن (مثلاً شرکت تعهد می |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| | په هره هفته کښې به يو ټاکلي مقدار پيسي يو چاته ورکوي) | | نماید که هفته وار مقدار پول معین را به کسی می دهد) |
| ۱۰ | د خصوصي او دولتي بانکونو اړوند دعوی | ۱۰ | دعوی مربوط به معاملات بانک های خصوصی و دولتی |
| ۱۱ | د ګروي معاملاتو د اسنادو او رسیدونو اړوند دعوی مثلاً: ( يو تجار پيسې يا مال د اعتبار په موخه په عمومي ګدامونو او یا بانکونو کښېږدي او د هغه په مقابل کښې رسید ورکول کيږي) | ۱۱ | دعوی معاملات راجع به اسناد و رسیدات گروی (مثلاً: یک تاجر مال منقول و یاپیسه را به دلیل اعتبار در گدام ها ی عمومی تجارتی و یا در بانک ها میگذارد و د رمقابل آن رسید داده میشود) |
| ۱۲ | د تجارتي شرکتونو د تشکیل او سهمونو د اخیستلو او خرڅولو اړوند دعوی | ۱۲ | دعوی مربوط به تشکیل شرکت های تجارتی و خرید و فروش اسهام |
| ۱۳ | د عقد بیع دعوی | ۱۳ | دعوی عقد بیع |
| ۱٤ | د عقد اجاره دعوی | ۱٤ | دعوی عقد اجاره |
| ۱۵ | د بدل اجاره دعوی | ۱۵ | دعوی بدل اجاره |
| ۱٦ | د بیعې په ثمنو کښې دعوی | ۱٦ | دعوی ثمن بیع |
| ۱۷ | د اجرت دعوی | ۱۷ | دعوی اجرت |
| ۱۸ | پر اجیر د ضمان دعوی | ۱۸ | دعوی ضمان علیه أجیر |
| ۱۹ | د مضاربت دعوی | ۱۹ | دعوی مضاربت |
| ۲۰ | د عقد د فسخ دعوی | ۲۰ | دعوی فسخ عقد |
| ۲۱ | د دین، قرض او افلاس دعوی | ۲۱ | دعوی دین، قرض و افلاس |
| ۲۲ | د سرقلفی د صورتونو دعوه | ۲۲ | دعوی صورتهای سرقفلی |

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د نظامي منسوبينو د ديوان رياست

| شمېره | د نظامي منسوبينو د ديوان مربوط قضيې | شماره | قضایای مربوط دیوان منسوبین نظامی |
|---|---|---|---|
| | د قضيې ډولونه | | نوع قضیه |
| ۱ | ددغه درو ارګانو( وزارت دفاع، وزارت داخله او د استخباراتو لوی رياست)څخه که يو څوک مدعی عليه واقع سو په هره موضوع کې چې وي موضوع يې د نظامي محکمې مربوط ده. | ۱ | اګر یک منسوب از سه ارگان( وزارت دفاع، وزارت داخله او د و ریاست عمومی استخبارات) د رهر نوع موضوع مدعی علیه واقع گردند موضوع مربوط محکمه نظامی میگردد. |
| ۲ | د نظامي شخص هر قسمه دعوی پر نظامی شخص | ۲ | هر نوع دعوی شخص نظامی علیه شخص نظامی |
| ۳ | د ملکي شخص يا د اشخاصو هر قسمه دعوی پر مدعی عليهم چې بعضي د هغو څخه نظامي وي | ۳ | هر نوع دعوی شخص یا اشخاص ملکی بالای مدعی علیهم که بعضی آنها نظا می باشند |
| ٤ | هغه ډلې چې د اسلامي امارت په خلاف مسلحانه فعاليت کوي.<br>په دې ماده کې به ټولې هغه مسلحې ډلې چې د امارت په ضد فعاليت کوي راسي، لکه مقاومتيان دي، دواعش دي يا بله کومه ډله ده. | | گروه که خلاف امارت اسلامی فعالیت مسلحانه را انجام می دهد<br>در این ماده همه گروهای که به ضد امارت فعالیت مسلحانه مینمایند مثل جبهه مقاوت ، دواعش و یا گروه دیگر. |
| ٥ | د اختطاف ټول موضوعات که منجر په قتل سره وي يا نه وي نظامي شخص وي يا غير نظامي شخص وي.<br>څرنګه چې دا موضوع مشکله او اکثر وخت اختطاف کوونکي زورور خلک وي نو قوي محکمې ته ضرورت لري؛ څکه مو ديوان نظامي ته ورارول مناسب وبلل. | | سائر موضوعات اختطاف که منجر به قتل باشد یا منجر به قتل نباشد، شخص نظامی یا غیر نظامی باشد.<br>قسمیکه این موضوع مشکل بوده و اکثر اوقات اختطاف کننده اشخاص زورور میباشند و به محکمه قوی ضرورت دارد به همین خاطر انتقال این موضوع به دیوان نظامِی مناسب دانسته شد. |

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء